مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۷/۲۴

# د وطن حال

خيالي خيالي ګـلونه ،له دې چمـنه ځـــــيني ووځي
ته به وايــي چې هوســـۍ دي ، له ختنه ځيني ووځي

کارغــان نيـــسي ځـــايونه، د ګــلونو ،په چمن کې
د مستو ترانو مرغان ،له ګلــــشنه ځـــيني ووځـــي

د خيرن ضمير باطن مخلوق ،په سپينو جامو بريښي
خو آرام او قــرار وينم ، له وطـــــنه ځيني ووځي

هغــه روح د معنوياتو ، چــې يي عرش ته رســـولو
اوس په خپلو ســترګو وينو،له بدنه ځـــــيني ووځي

مړي هم په هــديرو کې ، په ګــورو کې آرام نه دي
د وطن په حــــال غمجن دي ،له کفنه ځيني ووځي

رَم ســرشته غزالانــو،د وحــشت ويره احساس کړه
له زرغون ورشـــو نه تښتي ، له دمنه ځيني ووځي

چــې يــې زړونه ول بيداره ، بلبلانو په نـــــوا کې
په زړه پوی صاحبدلان ،له باغ و بڼه ځـيني ووځي

نور د صــبر طاقت نشــته ، مسيحا زمونږ د رنځه!
روح مو ډير دی ناقراره ،اوس له تنه ځيني ووځي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ